# Moral, Intellectual and Spiritual Weakness of Bayazid Rokhan in Halnama

# په "حالنامه" کښې د روښان روحاني، علمي او اخلاقي کمزورى

*Dr. Zia ur Rahman Zia

**Abstract:**

Bayazid Rokhan is a central figure in Pashto Literature and History .His Spiritual, moral, Intellectual and Political contributions are exemplary for his followers. But in fact, his contributions to Pashto literature and his mystic character is still undiscovered for the researchers of Pashto literature due to political spiritual religious and spiritual crises of the era he belongs .

His literary, spiritual and political contributions all are indeed memorable but inspite the facts of these splendid contributions his character is still disputed among the critics.

The researchers have attempted to access the mystic aspect of his character but all these attempts claimed unsuccessful because of the crisis. Now all the secret aspects of his mystical codes have been found very easy to resolve. A great critical book "Hallnama" has been compiled by Bayazid , his Spiritual son and Grandsons. This Research paper collects data of the reliable texts of "Hallnama" which is a true document by showing all the controversial aspects of his individuality. This research papers decodes all the myths, which are still disputed. For example:

1. Bayazid Rokhan was considered a spiritual saint, yet he had not any spiritual father in Sufism and history.
2. His spiritual movement reached to climax. How it took a movement? When he was not in linked with any spiritual father is another question which arrives in mind .
3. How he converts from Sufism to politics is an additional question relating to his personality.
4. Similarly his social and political tussles with the MUGHALS, his moral violation and spiritual flows all are the basic codes of this research paper, trying to revel the actual facts

*Goverment Servent

about his life..

بایزید روښان د پښتانه او پښتو د تاریخ د بدو ورځو شپو هغه بد قسمته ، عجب ، پېچلے او ځانګړے شخصیت دے د کوم درست او تاریخي مقام چې لا تر اوسه هغسې متعین نه کړے شو لکه څنګه چې پکار دے، د یو لیکوال په حېث د هغه په دې کردار او زیار خو ټول متفق او یوه خله دي چې پښتو ادب له هغه او د هغه مقلدینو ډېر څه بلکه بلها څه ورکړي دي کوم چې د یوې ژبې د کلاسېك دور سیالۍ لپاره نه یواځې کافي دي بلکه د ویاړ اسباب دي خو د یو روحاني او سیاسي لارښود په توګه د هغه کردار لا هغسې په تیارو کښې پټ او متنازعه دے او تر اوسه دا خبره په ډاګه نشوه چې ایا د هغه روحاني شخصیت د طریقت په کوم مقام دے او په سیاسي توګه د کوم معیار رهنما او نظریئ خاوند دے او یا د تحریك بیخي متصوفانه ؤ که سیاسي ؟

دا هر څه که یو خوا د تاریخ د جبر او د ناقلاره ژوند ستم ښکاري نو بلخوا د خپل وجود نه د بېزارۍ سبب ئې نا لوستي ، معاشي کمزورۍ او د ساده‌ګۍ یا بې غورۍ مظاهر هم دي. خو د ګلوبلائزېشن په جدید دور کښې چې دنیا یو کلے شوه او ټېکنالوجي هر ډول مشکلات او فاصلې له مینځه یوړې نو دا کار نه یواځې ممکن شو بلکه تر ډېره حده اسان هم شو .

په ماضي قریب او بعید کښې هر څو چې ډېر څه په دې موضوع لیکلے شوي او د کوشش، علم او صدق اعلې معیار لري خو د نا چاپه اثارو او د رسائي کمي په وجه یا د قال هنر لرلو او د حال د اسرار نه د ناوقفیت او یا د سیاست او مبارزې په مېدان د دسترس نه لرلو په وجه دا موضوع هغسې تحقیق طلب پاتې شوې، خو اوس دا مسئله حل کول او د بایزید د روحاني،علمي مقام تعین کول او د یو مبارز په حېث پېژندګلي بیخي اسانه شوې، ځکه چې د پښتو اکېډېمۍ لخوا حالنامه چاپ شوے او دا موقف لري چې:

> ”د حالنامې څه برخه پخپله بایزید روښان ، څه برخه وروستو د هغه زامنو او لمسو له خوا تکمیل شوې ده ۔“(1)

دي حالنامه کښي د بايزيد د خپل لاس برخه څومره ده ؟ دا يو ځانله بحث دے خو هر کله چې مونږ د هغه د يو مريد علي محمد مخلص ترتيب او تاليف کړے يو مستند دستاويز او شهادت لرو نو اوس دا خبره بيخي اسانه شوه چې د روښان روحاني مقام د سلوك او معرفت به باب کښي څه دے او هغه د کوم ډول قافلي رهبر دے يا هغه د طريقت په رموز څومره عبور لري او کنه د سلوك او روحانيت په لار د قام ولی او سياست چارې تر سره کول غواړي. دغسي زمونږ د دي ليك او تحقيق مقصد د پير روښان روحاني، علمي او اخلاقي مقام څېړل دي .

زه د خپلي لړي لوستي او د حانامي د مطالعي په اوان چې څومره د مسئلي تل او حل ته اورسېدم نو دا خبره په ډاډه زړه کولي شم چې په ابتداء کښي د بايزيد نيت او مرام بيخي د يو سالك او طالب ښکاري او په دغه نيت تر هر حده تللے او کوشش کونکے دے خو يا د حالاتو ستم ؤ يا ازلي برخه چې هغه د ډير زيار او کوشش باوجود هم په نيمه لاره کښي د وفا حيران او سرګردان پاتي شو .

د وفا په لار کښي د پاتې کېدو خبره مې ځکه اوکړه چې بايزيد تر خپل وسه د يو کامل په لټون او لاس نيوه کولو پسي ډير دلګير شوے . خو اول د خپل پلار انا يا کېنې او بے ځايه پښتو دغسي کولو ته پرېښے نه دے او بل د حالاتو پېچ او خم سره خپلي ازلي برخي هم د دغي سعادت او نسبت نه لري ساتلے .

هغه چې کله پلار ته د خواجه اسماعيل نه د بيعت کولو زکر اوکړو نو پلار ورته اووې:

”بچے د شيخ محمد دولس زامن وو او زه
د ټولو نه په علم کښي اوچت ووم. ځکه خو د
قضاء په چوکی ناست يم. که تا د هغه په
لاس توبه اوښکله نو په ټولو افغانيانو کښي
به خبره خوره شي چې د عبدالله په شان د لوئے
عالم او قاضي زوے د شيخ خداداد د زوے
مريد شو .پوزا به راله پرېکړي.نوم او عزت
به مې په خاورو او ستا اومنډې سره دغه
کار ښائي هم نه.که داسې دې اوکړل خفه به
شم درنه او چې بيا په ما سترګي اونه

لګوې. مخې له رانه شي.که مريدي ته دې
زړه وي نو ملتان ته لاړ شه او د شيخ بهاء
الدين زکريا رحمه الله عليه نه لاس نيوه اوکه
."[2]

او هم د دغه ځايه مسائل او مشکلات هغه وخت راپېدا
کېدل پېل شول چې پلار بايزيد ته د خواجه اسماعيل نه د
بيعت کولو اجازت ورنه کړو:

"نو د بايزيد زړه صبر نه شو بيا
خواجه اسماعيل له لاړو او ورته ئې اووې
اے مشره پلار اجازت نه راکوي او زړه مې په
قلاره نه پرېږدي. بيا درپسې راغلم . خېر
دے د خدائے په رضا ماته څه وصيت اوکه او
څه ذکر راکه چې زه ئې وظيفه کوم. هغه
ورته اووې داسې نه کېږي. دا د پيري مريدي
د ادابو خلاف دي."[3]

او دغسې هغه د طريقت په پرکېفه او پر خطره لارو
بغېر د کوم صاحب حال او صاحب نظر نه يواځې د تللو
پريکړه اوکړه او هم دا اصل نقطه ده چې د ارض او سماء د
سېل اراده کونکے په زمکه راګزار شو . هر څو چې بايزيد
خپل کوشش به پوره کوو خو د سلوك او معرفت لارې بغېر د
کوم کامل نه سر کول ممکن نه دي . نه دا زور منې او نه
د عقل فلسفې . بلکه بغېر د مرشد نه د معرفت په لار کښې
ځان د يقين د غر نه د شيطان د وسوسو کوهي ته غورځول
دي يا د القا او هاتف د انعام او اکرام په ځائے د
ابليس د کفري حربو خاورې په سر بادول دي، ځکه خو شيخ
سعدي فرمائي:

*اين سعادت بزورِ بازو نيست* [4]

او مولانا رومي د حال په ژبه داسې ګويا دے:

*مولوی ہر گز نہ شد مولائے روم*
*تا غلامِ شمس تبریزی نہ شد* [5]

او د پښتنو فقير لسان الغيب رحمان بابا دا خبره
نوره هم شيرينه او واضحه کوي:

بې مرشده څوك خبر د
مريد اخلي
غوڅ په غم د فرزندانو
پدر بويه

بې رهبره رسېدل و يار
ته ګران دي
په كوڅه د مهرويانو
رهبر بويه (6)

د روحانيت او فقر په دنيا كښې چې د قلب او لطائف منور كولو پشمول كوم قوت د ظاهر او باطن ، تصرف او اسرار چې شيخ كامل ته رب وربخښلې وي د هغې اندازه بس يو طالب او سالك ته كېدې شي .بغېر د شيخ مكرم نه په دې لارو تلل ناممكن او د زيان نه خالي نه وي. ځكه دلته يو بل وضاحت هم ضروري دے هغه دا چې هر كله بايزيد ته پلار او خواجه اسماعيل انكار اوكړو او هغه مضطرب په دغه اضطرابي كېفيت كښې د عشق د لېونتوب په لاره بغېر د كوم مرد كامل نه خپل سفر پېل كړو نو د روحاني ترقۍ او اعلې مقاماتو تر سره كولو لپاره هغه يو نه څو څو وارې د خضر په خوب كښې د ليدلو او د هاتف د بيا بيا لارښونې خبره كوي او د خپلو مقاماتو او روحاني ترقۍ مدارج د طے كولو هم . هغه وائي:

”كله چې د پير بايزيد روح عالم مثال
ته لاړو خوب ئې اوليدو چې يو بزرګ د قبلې
طرف ته ناست دے او زه د هغه په خوا تېر
شوم اواز ئې راباندې وكړو چې اے بايزيده
زما نه د برخې اغستو نه بغېر ولې تېرېږې.
بايزيد تپوس وكړو جې تاسو څوك ئې . هغوي
ورته اووې زه مهتر حضر يم .. حضر ورته
اووې .اووايه ما خپل دين تا سره يو كړو
او ستا ديني رور شوم....“ (7)

د خوبونو د تعبيرونو په دنيا څومره خلق پوهېږي او د خوبونو څومره قسمونه دي زه په دې د دسترس لرلو نه عاجز يم خو دلته څو پوښتنې راپېدا كېږي چې بايزيد

د رهنمائي او روحاني ترقۍ لپاره د حضر په خوب کښې د لېدلو خبره کوي نو ما چې کوم عبارت رانقل کړو ايا د طريقت د لارې راهي به دغه اخري کرشه يا جمله د هغه د خود سرۍ او د نا پوهۍ ثبوت ونه ګڼي ؟ او هم په داسې کېفيت کښې د يو مرشد کردار مسلم او د اهميت وړ وي .

دلته د امام العارفين او سردار الاولياء دا واقعه رانقل کول به زمونږ موقف له د لا تقويت ورکولو موجب شي :

"شیخ عبدالقادر جیلانی ایک جگہ سے دوسرے جگہ جارہے تھے۔ سخت گرمی کا موسم تھا۔ شیطان بادل کا ٹکڑا بن کر شیخ عبدالقادر کے اوپر چلنے لگا، کچھ دیر چلنے کے بعد بادل کی ٹکڑی نے شیطان بن کر کہا :مبارک ہو تم کو۔ اللہ تعالیٰ کی ذات نے آپ سے فرض نماز ختم کردی ہے۔ شیخ عبدالقادر نے کہا: ابلیس لعنتی دفعہ ہوجا ۔ اگر دنیا میں کسی کی نماز معاف ہوتی تو سارے جہانوں کے سردار نبی آخر الزمان جناب محمد مصطفیٰ ﷺ کی معاف ہوتی ۔ شیطان مردور نے کہا اے عبدالقادر جیلانی آج تیرے ایمان کو تیرا علم بچا گیا ہے۔ شیخ عبدالقادر نے ارشاد فرمایا: مجھ کو میرا علم نہیں میرے رب کے فضل نے بچایا ہے۔"(8)

ماته داسې ښکاري چې شيطان بايزيد د خپل مرام نه ډېر لرې بوتلے او هغه د يو کامل شيخ نه لرلو په وجه بيخي په ځان پوهه شوے نه دے او پخپل سر چېله کولو او په زکر و ازکار هغه د عشق د لارې نه د سياست مېدان ته راغب کړے شوے ، دا خبره مسلم ده چې د عشق لارې نه د عقل فلسفې مني او نه سينه زوري . بله دا چې د روحاخيت او معرفت په عرفاني لارو او ګودرو کښې د حضر کردار او ملاقات د عالم مثال څخه متقاضي وي يا څه نوري روښانه لارې او هم لرې ؟ درېمه دا چې بقول د بايزيد چې په هغه دومره کرم شوے ؤ او قدم په قدم ئې رهنمائي کېده نو د هغه تحريك ولې د ناکامۍ او بدنامۍ سره مخ شو؟ څلورمه دا هم غور طلب او زومعني غوندې ده چې د ولي کامل شيخ بهاوالدين زکريا تجويز ولې رد کړے شو؟

هسې خو د حالنامې په ټوله ترجمعه او طريقه کار خبره کېدې شي خو هر څو چې زمونږ وروړ ښاغلے داکټر عبدالقدوس مېډيکل ډاکټر دے نو په دې وجه د هغوي کار او زيار ته ګوته نيول به احسان فراموشي وي. دلته بس دومره قدري عرض کول دي چې دوي د شيخ محترم اکرم اعوان رح څوک چې د نقشبندي اويسيه سلسلې ډېر معتبر شيخ ؤ او د مولانا الله يار خان څوك چې د عبدالرحيم رح او د الله دين رحمه الله مريد ؤ د غبار راه نومې کتاب د دوېمې برخې د ص ٢٧٤ اقتباس د بايزيد روښان په بابله رانقل کړے چې:

”دلته يو بزرګ تېر شوے دے. پير روښان ورته وائي. دا په اصل کښې روښ تکے دے خو پښتنو په راښکو روښان کړے دے. يو وخت ؤ چې ټول وزيرستان څه چې ګرده پښتونخوا په ده پسې وهـ چا کامل پير مريد وه.“ (9)

بيا ئې د هغوي رد پخپل اينډ نوټ کړے چې:

”پير شيخ امير محمد اکرم اعوان خبر نه ؤه چې پير روښان د حضريه اويسيه سلسلې مازؤن وه. په هغوي خپل رب د علم لدني پېرزو کړې وه.“ (10)

دلته دا خبره ضروري ګڼم چې د اويسي نسبت انعام او مقام د بيعت کېدو نه وړاندې اګر چې د حال په دنيا کښې دوه درې شخصيات او واقعيات شته خو دغه د فلك خصوصي انعام او اکرام وي. هغه بس يو اوېس قرني او بل بشر حافي ؤ چې دغه انعام پرې بلا واسطه عنايت شوے. خپې ابله ؤ خو د امام احمد بن خمبل غوندې عالم ئې مريد شو. اول خپله هستې د يو کامل په لاس کښې ورکول او خپل ځان ژوندے په زمکه خښخول وي او بيا چې په چا خپل رب فضل و کرم يا مهرباني کوي نو د لېونتوب په لاره ئې د سړيتوب په زرو سېنګار له د علم لدني حاصل کړي او د اوېسېټ تاج ورته په سر کړي. رحمان بابا شايد په دغه مرخله وئېلې وو

شاخ د زلفو ئې پخپله
خدائے راټيټ کړو

گـنـي زۀ د يـار پـه قـد پـورې
کـوتـــــــــــــــاه يـــــــــــــم [11]

دلـتـه دا هـم يـوه مـهـمـه پـوښـتـنـه يـا د غـور وړ نـقـطـه ده چې اوېـسـيـت څـه وي، پـېـرزو ئـې څـه وي، رنـګ ئـې څـه وي او طريقـه ئـې څـه وي، اوېـسـېـت يـواځې د حـضـر پـه خـوب پـسـې تـړلـې بـيـخـې نـاسـمـه او نـا مـعـقـولـه خبـره ده ، اوېـسـيـت د بـرزخ نـه نـېـغ پـه نـېـغـه د چـا رهـنـمـائـي تـه وائـي او دغـه كـار زيـات انـعـام يـافـتـه يـا تـاكـلـي شـوي هـسـتـۍ كـوي او دا عـمـل او تـربـيـت پـرلـه پـسـې دوام لـري.

پـه دې حـقـلـه د بـابـا تـاج الـديـن د سـلـسـلـې يـو مـرد قـلـنـدر حـضـور قـلـنـدربـابـا اولـيـاء لـيـكـي:

نسبت اویسیہ کا انکشاف پہلے پہل حضرت غوث الاعظم کے طریق میں ہوا جس کی مثال پانی کے چشمے سے دی جاسکتی ہے جو کسی پہاڑ کے اندر یا کسی میدان میں بکایت پھوٹ پڑھے اور کچھ دور بہہ کر پھر زمین میں جذب ہوجائے اور مخفی طور بر زمین کے اندر بہتے بہتے پھر کسی جگہ فوارہ صفت پھوٹ نکلے۔ حضرت غوث الاعظم کے بعد یہ سلسلہ اسی طرح جاری ہے۔ لوگ اس ہی نسبت کو نسبت اویسیہ کہتے ہیں۔ اس نسبت کا فیضان مخفی طور سے یا تو ملا اعلیٰ کے ذریعے یا پھر انبیاءکی روح کی معرفت یا قرب فرائض کے اولیائے سابقین کی روحوں کے واسطے سے ہوتا ہے۔"[12]

تـر څـو چې د عـلـم لـدنـي خـبـره ده نـو د دغـه عـلـمـيـت او انـعـام مـقـابـلـه يـا سـيـالـي پـه دې دنـيـا ګـرانـه بـلـكـې نـا مـمـكـن ده او داسې هـسـتـۍ اوس هـم وخـت پـه وخـت پـه دنـيـا كـښـې مـوجـود وي چې يـو ورځ د مـدرسې يـا مـكـتـب پـه خـوا نـه وي ورغـلـي خـو عـالـمـان فـاضـلان چې بې بـسـه شي ، عـلـم او عـقـل لار نـه وركـوي نـو د هـغـوي پـه در حـاضـر شي . كـه څـوك ئې نـه مـنـي نـو د مـراكـش د "حضرت دبـاغ رحـمـتـه الله عـلـيـه خـزيـنـه مـعـارف" مـطـالـعـه دې وكـړي او يـا دې پـه ٦ ژبـو د ګـويـا شـاعـر "چلاسي بـابـا" پـه حـال او قـال څان خبـر كـړي ..

حـالـنـامـه هـم پـه يـو وخـت دوه خـبـرې كـوي يـوه دا چې وائـي پـه بـايـزيـد خـصـوصي انـعـام شـوے وه او پـه خـوب كـښـې ورتـه هـر څـه د حـضـر لـخـوا عـنـايـت كـړے شـوي وو بـلـخـوا د

بایزید د وصلت په مقام هم د یو پیر د لټون او اهمیت خبره کوي ـ لیکي:

> ”مرید صرف د پیر په توجه ژوندے او کامیاب وي۔ په دې مقام وصلت کښې به هم د پېرانو ، فقیرانو،سالکانو، عارفانو په مجلسونو کښې خامخا کښناستو که چرته د برخې خاوند په لاس ورشي او د زړه مراد ئې تر سره شي۔۔۔“ (13)

یعني کمے ؤ او ډیر ؤ کوم چې هغه بدرجه اتم محسوسوو ـ دلته یوه بله مهمه پوښتنه هم سر راپورته کوي چې که مونږ د بایزید روښان علمي مرتبه او د اویسیت مقام، نسبت او انعام تسلیم کړو نو د هغو علمي کمزورو سره به څه کووکومې چې په خاص توګه د احادیث او ایاتونو په بابله په حالنامه کښې په وافر مقدار پټې او ښکاره موجود دي ؟ لکه د بایزید بسطامي دې قول ته چې حدیث وئیلے شوے”**من لم شیخ کاملا له فالشیطان شیخه**“حالانکې د تصوف د ټولو نه لوے،زوړ او مستند کتاب ”رساله قشیریه“ دا د عارف بایزید بسطامي قول یادوي نه چې حدیث ـ دغسې که مونږ نظر په حالنامه واچوو نو داسې ډیر اقوال چې د اصحاب کرامو،عارفانو، صوفیاء کرامو د خلې ګفت دي په احادیث بللے شوي، اویسیه نسبت او په خاص توګه د علم لدني لرونکے په دې موضوع ډیر دسترس لري او په حدیث او ایتونو یا عامو خبرو کښې واضحه فرق کولے شي ـ دلته د نمونې په توګه یوه واقعه د حضرت دباغ رحمة الله علیه څوک چې د علمِ لدني ښتن او د سلسله اویسیه نسبت لرونکے وۀ وړاندې کووم :

> "اولیاءاللہ خواہ اُمی ہی کیوں نہ ہو قرآن و حدیث میں امتیاز کرسکتے ہیں۔جب مجھے یہ معلوم ہوگیا کہ آپ اس معاملے میں راسخ ہے اور آپ ان الفاظ کو پہچاننے میں جو نبی ﷺ کے دہن مبارک سے نکلے ہو، پہاڑ کی طرح متزلزل نہیں ہوتے تو میں نے چاہا کہ قرآن و حدیث میں فرق کے متعلق آپ کو آزماؤں کیونکہ اِنہی دوسری صورتوں کا تو ذکر ہی کیا سب سبعؑ کا حذف بھی یاد نہ تھاچنانچہ کبھی میں ایک آیت پڑھتا اور پوچھتا حضور یہ حدیث یا قرآن؟ فرماتے یہ تو قرآن ہے۔ پھر حدیث پڑھتا اور پوچھتا کیا یہ قرآن ہے یا حدیث؟ فرماتے حدیث ہے۔ مدت تک اس کا بھی امتحان

کرتا رہا حتیٰ کہ ایک مرتبہ یوں پڑھا "حَافِظُوْ عَلَى الْصَلَوٰتِ وَالصَلَوٰتِ الْوُسْطَىٰ وَهِيَ صَلَوٰة الْعَصْرِ وَ قُوْمُوْ لِلّٰہِ قَانِتِيِنْ""اور پوچھا آیا یہ قرآن ہے یا حدیث؟ فرمایا کچھ قرآن ہے کچھ حدیث ۔ "وَهِيَ صَلَوٰة الْعَصْر"کے الفاظ آپ ﷺ دہن مبارک سے نکلے ہیں یہ قرآن کے الفاظ نہیں ہیں۔ اور باقی قرآن کے ہیں۔" (14)

اولیاء کرامو خوبونه او قلبي واردات اگر چه رښتیا او صداقت لري خو دا علم حدیث قوائدو او مروجه طریقه کار تر مخه دغه بس یو انفرادي حېثیت لري نه چې اجماعي .بل په ځېنې ځایونو د ایاتونوو او احادیث د خپلې خوښې یا مقصد تر مخه ترجمعه او تشریح هم شوې او دغه زیاتے د هغه د مخالفینو په خصوصي توګه د اخوند درویزه موقف درست او په ځاے ګرځوي ..

د روښانیانو او د مغلو تر مینځه د زړه بداوي پېدا کېدو قیصه هم څه عجیبه او خود ساخته ښکاري.په حالنامه کښې چې د شخړې بنیادي سبب کوم بیان کړے شوے هغه په هره حواله د یقین جوګه نه دے . د دې واقعې تعلق د توي قبېلې په یو ځاے د بایزید مریدان کېدل او د زکر ، فکر او خوارۍ سره د دنیا د چارو نه لاس اغستلو پشمول د مجذوبیت حال شودلے شوے او د وجد په حالت کښې ئې د غېر فطري صورتحال نه پس د پېښې سبب دا یاد کړے :

”یو څو ورځې پس د هندوستان نه یوه قافله کابل ته تله. د دې کلي خوا ته ئې ډېره واچوله. د دې کلي خلقو د یو سړي نه تپوس اوکړو دا څوك دي هغه ورته اووې دا سوداګر دي . د هندوستان نه ئې رخت راوړے دے کابل ته ئې وړي...دغه شان دا مجذوبان یو ځائے شو. هو الله چغې ئې شروع کړې او په منډه منډه د قافلې په لوري روان شو. هغوي چې اولیدل هغوي وې که ټول افغانان یو شوي او پیر روښان توره راخستې ده نو ځکه دا خلق په مونږ پسې رازغلي . د خپل سر یره ورسره شوه. سامانونه ئې په حائے پرېښودل او کابل ته اوتښتېدل“ د سامان او رخت پاتې

> کېدو نه پس متاثرين د فرياد لپاره مېرزا حکيم له لاړل او هغه د مجذوبانو زېر کولو حکم جاري کړو. علي محمد مخلص وړاندې ليکي" ميرزا پينځه سوه سواره راولېږل چې لاړ شي د دې خبرې پته ولګوي.. هغه پينځه سوه مجذوبان ئې مړه اووژل او کلي ته ورغلل باقي خلق ئې هم مړه کړل او د هغوي ښځې او بچي ئې لاس تړلي کابل ته بوتلل." (15)

اوس راځو خپلې اصل مدعا له. سوال دا راپېدا کېږي چې د يادې شوې قبېلې ټول کلي که په يو ځائے د بايزيد نه لاس نيوه وکړه نو ټول مجذوبان څنګه شول او که ټول مجذوبان شول نو بايزيد چې ځان ته کامل وائي د هغه کردار څه شو ؟ د يو کامل پير نه د هغه يو مريد مجذوب کېدل هم ډېره د افسوس او غېر معمولي خبره وي او بيا د ټول کلي مجذوبيت پلو تلل د بايزيد د روحاني سفر د نېمګړتيا ،ناکامۍ او کم علمۍ پشمول پخپله د طريقت په ازغنه او مشکله لاره د خپې ابله پاتې کېدو ښکاره ثبوت دے او دا هغه نېمګرتيا ده چې د بايزيد په شخصيت کښې د يو شيخ د کمي په وجه قدم په قدم محسوسېږي .که دغه داستان مونږ رښتيا اوګڼو نو د دې وجه به په مريدانو بلا ضرورت د خپل استعداد او زهني سطح نه زيات بوج اچول وي او د هغوي ذهني توازن به برقرار نه وي ساتلے شوے کوم چې بس يو کامل پخپله توجه او تربيت باوري کولے شي او هم دا هغه خبره ده چې دا د سعادت زور کار نه دے.

څنګه چې د نورو علومو استاذ د خپل شاګرد هر رنګ او هر ډول علمي او اخلاقي يا ذهني تربيت کوي دغسې کردار د يو پير هم وي بلکه د هغې نه ډېر زيات وي . تر منزل رسېدو پورې بلها نفسياتي او ذهني مسئلې حل کول د مرشد زمه واري وي او هغه دغه زمه واري د مريد هر نفسياتي او زهني توازن برقرار ساتلو لپاره په احسن طريقه تر سره کوي .

دا خبره ښکاره او د جمهور مشائخو متفقه ده چې مريد د نفس د ناکردو ، شيطان او ذهني ناروغتيا نه ساتلو لپاره د شيخ کردار او علميت مسلم وي او که دغه نه وي

نو انجام ئې یا خو لیونتوب، نیمګړتیا ، مجذوبیت ، عامل او یا په نورو کندو کپرو سر کېدل وي.د بایزید نه خپل مریدان مجذوبان کېدل ، باغي کېدل که علمي او روحاني ناکامي نه ده نو نور څه دي ؟ بله دا چې مختلف کسانو ته د بایزید لخوا په چله دوو خلافت ورکول څه معنی لري . یو سالك ته د خلافت ورکولو څه تقاضې وي او څه شرائط وي ........... ؟ په دي بس د زړونو خاوندان پوهېږي. دغسي که مونږ د روښان تحریك ته ناکامي نشو وئېلې نو د مذهب او طریقت په جامه کښې رانغښتے یو مسلح تحریك ورته ضرور وئېلے شو . که څوك ورته قام پرستي وائي او که سیاسي پرتشدد مبارزه ؟

د پښتو متل دے"که پیر خس دے مرید له بس دے" زما په خیال که د حالنامي مولف علي محمد مخلص د خپل پیر او استاذ په بابله هر قسم مثبت خیالات لري نو مسلم دي . یو خو هسې هم مینه ړنده وي او بل دا چې عقیدت تر مذهب او طریقت تر لاړو شي نو زور ئې لا یو په دوه شي. هغه څکه چې د پورته لیکلے شوو متلونو په مصداق د استاذ او شاګرد بشمول څه نفسیاتي او ادبي وجوهات او کلتوري اقدار هم وي او بله دا چې د بایزید خپل شخصیت هم څه عام غوندې نۀ وۀ، د دومره لوئي جدوجهد او قرباني خاوند چې هر څه ؤ خو یو غېر معمولي شخصیت ضرور وۀ .

د عشق لاري څه هسې نه سر کېږي په خپل سر لوبې کول وي، خپل ارمانونه قربانول وي . تصوف او روحانیت څه دے سر تر پایه عاجزي ، صبر او تزکیه ده ، په دنیا کښې د دنیا نه مخ اړول دي او د تزکیه نفس پشمول د هري هغې لاري او چاري نه ډډه کول دي کومه چې د محبوب په معیار او رضا کښې رکاوټ راپېدا کوي. د عشق په اور کښې د محبوب زړه ساتل وي او زړه څنګه ساتلے کېږي دا د مئینو زړونو لرونکو ته پته ده .

خپل اختیار بل له ورکول د لړ خوراك لړو وئېلو سره رحم، کرم، عاجزي، فقیري، اعلی اخلاق و کردار، بل له ورکول، بل له غوښتل، کینه او بغض پرېښودل، هر بشر له څان نه غوره ګڼل غرض دا چې د رحمان بابا په قول څان ژوندے په زمکه خښول وي نو هله که ازلي برخه وي او شیخ کامل

وي نو د جانان تر کوڅې تلل ممکن وي. په دې حقله حضرت ابو الحسن نوري رحمته الله علېه فرمائي:

"اَلصُّو فِي الَّذِيْ لَا يَمْلِکُ وَلَا يُمْلَکُ" ـ " (16)

"صوفی وہ جو نہ کسی کا مالک ہو نہ کسی کی ملک۔"

یعنی صوفی وہ ہے جو جس کی قید میں کچھ نہ ہو اور وہ خود کسی کی قید میں مقید نہ ہو۔ صوفی متاع دنیا و آخرت میں سے خود کسی چیز کا مالک نہیں ہوتا اور آپ نفس و حرص و حظ اور خواہشات کے ملک میں نہیں رہتاگویا اپنی مشیت اور ارادہ کو ماسویٰ اللہ سے منقطع کرلیتا ہے تاکہ غیر اس کی اطاعت و بندگی کا طمع نہ کرسکے۔"

نو هر کله چې د طريقت او سلوك ارادت عاجزي،تزکيه او صبر دے نو پکښې قتل و غارت خو پرېږده هسې هم د بل انسان زړه ازارول د خپل مسلك او مرام نه د ۹۰ په زاويه مخ اړول دي.په دې حقله د بايزيد د تيراه خلقو په حقله يو واقيعه رانقل کوو چې د هغه د اخلاقي او مذهبي زمه وارو نه د سر غړونې ناقابل ترديد ثبوت وړاندې کوي.

"تيراهي عالم شايد ظاهر د ده سره وه او باطن ئې د مغل سره رويه درسته وه. هغو ته بايزيد ووئېل چې تاسو په باطن دمغلو سره ياستئ. دي ما له طريقې مردود الطريقه شوي اوس بويه چې دواړه لاسونه پخپله وتړئ راشئ.. دې تاسو توبه هم دغه ده . هغو يا له اعتقاده چې په ده ئې وه يا له ويرې تېر سو کسو لاسونه وتړل ورله ورغلل.تېر سو واړه ئې جدا جدا مړه کړ.يو د بل نه خبر نه شول. هغه باقي ئې تاراج کړل." (17)

دلته دي ظلم او جبر له مونږ څه جواز او دليل کتلے شوو چې ايا دا په کوم مذهب او مسلك جائز ، روا او د اخلاق او کلتور نه پرېوتے کار نه ؤ چې د معافي او توبې لپاره به نتواتي ورغلي تش لاسي ووژلے شول. دلته

دا خبره واضحه شوه چې د دې تحريك د صوفي ازم د دنيا ځومره تعلق ؤ ..دغسې داسې يوه بله واقعه د چهوټے ميا جلال الدين رانقل كووچې د تربيت ، علمي او اخلاقي خلاء په اړه د ټول تحريك عكاسي كوي .

واقعه داسې وه چې د بايزيد روښان يو خليفه چې نوم ئې درويش ؤ د هغه يوه لور د شاه زاده ګلي په نوم چې واده نه انكاري وه او د مجذوبيت ژوند ئې تېروو :

,,خلقو جلال الدين ته لمسه وكړه چې د پير دستګير لور بي بي كمال خاتون د واده نه انكار نه كړے ..خو د شيخ دادو لور كلونه اوشوه چې پېغله شوې ده ځوانه شوې ده د واده نه ئې انكار كړے دے.. دا خو د قران حكم نه منل دي او د پېغمبر د حديثو خيال نه ساتل دي ـ،، (18)

لنډه دا چې جلال الدين د درويش او شهزاده ګلي د مرضى خلاف هغه يو هلك چې بارك نوم ئې ؤ وركړه ''بارك د بركي قبيلې غړے وه .ځوان ؤ لېر دير سبق ئې وئېلے ؤه.د قندهاريانو سره به اوسېدو .

شهزاده ګلي چې د خپلې قبيلې خلقو د خپلې او پلار د رضا نه بغېر په كومه ورځ رخصت كړه نوا دا خبره د هغې پلار درويش لپاره ناقابل برداشت وه . په ډولۍ پسې لاړو او بارك نه ئې سر په توره جدا كړو او بيا د خپلې قبيلې او خېل خاني سره پېښور ته لاړو.علي محمد مخلص ليكي:

''چې كله د دې پېښې نه جلال الدين خبر شو نو په ستنه راغے او د درويش د قبيلې نه جې كوم مال و متاع ،سامانونه او څاروي پاتې شوي وو هر څه ئې لوټ كړل او د خلقو نه ئې د درويش د قبلې تپوسونه اوكړل چا ورته اووې جې يوه ښځه سره د دوو ماشومانو بچو د پلار په كور كښې پاتې شوې ده چې يو زوے ئې د دوه كالو دے او بل د دريو يا څلورو كالو.. د جلال الدين جلاليت راوپاريدو .ستركې ئې سرې شوې مخ ئې ببر شو .په بنده خله ئې ژوره ساه واخسته..حكم ئې اوكړو چې هغه دواړه ماشومان راولئ او د هغه غر د څوكې نه ئې شكته

راوغوزوئ.خلقو ورته ډېره زاري اوکړه چې ماشومان دي بې ګناه دي د دوي پکښې څه ګناه ده خو هغه اونه منله .دواړه ماشومان ئې ښکته اوغورزول ټوټې ټوټې شو په حق اورسېدل ." (19)

زما په خيال دا خبره بيخي واضحه شوه چې دغه خلقو څه نوري ارادې لرلې او د هغې سر کولو لپاره ئې هر ظلم او جبر جائز ګڼرلو . متصوفين خو داسې سوچ هم نشي کولے هغوي خو د دې عقېدې او نظريئ پېروکار وي.

مېنې دې دومره پامتدار کړم

په ميړي خپه نه ږدم چې يار به ئې پاتې شينه

- - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - -

# حوالي

1 وزير نصرالله جان، مقدمه حالنامه، پښتو اکېډېمي، پېښور يونيورسټي، ٢٠١٩، ص ٢١

2 مخلص علي محمد، حالنامه، پښتو اکېډيمي، پېښور يونيورسټي، ٢٠١٩، ص ١٠١

3 مخلص علي محمد، حالنامه، پښتو اکېډېمي، پېښور يونيورسټي، ٢٠١٩، ص ١٠٢

4 *https://sufinama.org/sufi-proverbs/oral-tradition-sufi-proverbs-61?lang=ur*

5 *https://www.thenationalduty.com/2021/06/blog-post_30.html*

6 رحمان بابا، ديوان عبد الرحمان بابا، يونيورسټي بك ايجنسي، پېښور، ٢٠١٧، ص ٢٠٥

7 مخلص علي محمد، حالنامه، پښتو اکېډيمي، پېښور يونيورسټي، ٢٠١٩، ص ١٠٢-٣

8 مخلص علي محمد، حالنامه، پښتو اکېډيمي، پېښور يونيورسټي، ٢٠١٩، ص ٥٢

9 رحمان بابا، ديوان عبد الرحمان بابا، يونيورسټي بك ايجنسي، پيښور، ٢٠١٧، ص ٧٤

10 ډاکټر پير محمد حسن، خزينه معارف، هاشمي پبلي کېشن، راولپنډي، ٢٠١٣

11 بابا چلاسي، التبيان شهر رمضان، الفلاح پرنټرز، پيښور، ١٤٣٧ هجري

12 *https://ksars.org/topics/%D9%86%D8%B3%D8%A8%D8%AA-%D8%A7%D9%88%DB%8C%D8%B3%DB%8C%DB%81*

13 *https://hamariweb.com/articles/65015*

14 خزینۂ معارف،مترجم: ڈاکٹر پیر محمد حسن،ہاشمی پبلی کیشنز ، راولپنڈی، 2013ء، ص 116



Pukhtunkhwa Journal

15 مخلص علي محمد، حالنامه، پښتو اکېډيمي ، پېښور يونيورسټي، ۲۰۱۹ ، ص ۵۱۱

16 ہجویری، سید علی بن عثمان کشف المحجوب (کلام المرغوب)، مترجم: علامہ ابوالحسنات سید محمد قادری، مکتبہ شمس و قمر، جامعہ حنفیہ غوثیہ، بھاٹی چوک لاہور،2016ء، ص 127-28

17 خټک، افضل خان، تاريخ مرصع، يونيورسټي بُک ايجنسي پېښور، جدون پرنټنګ پرېس پېښور، مئ ۲۰۰۶ء، مخ ۲۹۲

18 مخلص علي محمد ،حالنامه، پښتو اکېډيمي ، پېښور يونيورسټيی، ۲۰۱۹، ص ۴۲۹

19 مخلص علي محمد، حالنامه، پښتو اکېډيمي، پېښور يونيورسټي، ۲۰۱۹، ص ۴۳۵

- *WAZIR NASRULLAH JAN MUQADMA HALNAMA PASHTO ACADEMY PESHAWAR UNIIVVERSITY 2019 P 21*
- *MUKHLIS ALI MUHAMMAD HALNAMA PASHTO ACADEMY PESHAWAR UNNIIVERSITY 2019 P 101*
- *MUKHLIS ALI MUAHAMMAD HALNAMA PASHTO ACADEMY PESHAWAR UNIVERSITY 20019 P 102*
- *https://sufinama.org/sufi-proverbs/oral-tradition-sufi-proverbs-61?lang=ur*
- *https://www.thenationalduty.com/2021/06/blog-post_30.html*
- *RAHMAN BABA DEWAN RAHMAN BABA UNIVERSITY BOOK AGENCY 2017 P 205*
- *MUKHLIS ALI MUHAMMAD HALNAMA PASHTO ACADEMY PESHAWAR UNIIVERSITY 2019 P 102.3*
- *MUKHLIS ALI MUHAMMAD PASHTO ACADEMY PESHAWAR UNIIVERSITY 2019 P 52*
- *RAHMAN BABA DEWAN RAHMAN BABA UNIVERSITY BOOK AGENCY 2017 P 74*
- *DOCTOR PEER MUHAMMAD HASSAN HAZINA MAARIF HASHMI PUBLICATION 2013 RAWALPINDI*
- *CHILASI BABA AL TABYAAN SHER RAMZAN AL FALAH PRINTERS PESHAWAR 1437 HIJJRI*
- *https://ksars.org/topics/%D9%86%D8%B3%D8%A8%D8%AA %D8%A7%D9%88%DB%8C%D8%B3%DB%8C%DB%81*
- *MUKHLIS ALI MUHAMMAD HALNAMA PASHTO ACADEMY PESHAWAR UNIVERSITY 2019 P 118*
- *https://hamariweb.com/articles/65015*

- *MUKHLIS ALI MUHAMMAD HALNAMA PASHTO ACADEMY PESHAWAR UNIIVERSITY 20019 P 511*
- *HAJVAIRI, SAYED ALI MUHAMMAD BIN USMAN, KASHFUL MAHJOOB, TRANSLATOR: ALLAMA ABULHASANNAT SYED MUHAMMAD QADRI, MAKTABA SHAMS W QAMAR, JAMIA HANFIA GHOSIA, BHATI CHOWK, LAHORE, 2017, P 127-28*
- *KHATTAK AFZAL KHAN, TAREEKH E MURASA, UNIVERSITY BOOK AGENCY PESHAWAR, JADDON PRINTING PRESS, MAY 2006, P, 292*
- *MUKHLIS ALI MUHAMMAD HALNAMA PASHTO ACADMEY PESHAWAR UNIVERSITY 20019 P 429*
- *MUKHLIS ALI MUHAMMAD HALNAMA PASHTO ACADEMY PESHAWAR UNIVERSITY 2019 P 435*


Pukhtunkhwa Journal